# لوړو زده کړو اونیزه
# هفته نامه تحصیلات عالی

Ministry of Higher Education

شماره یکصد و شصت و یکم- سال هشتم- قوس -۱۳۹۹ ه. ش

https://mohe.gov.af


## پوهنتون پولی تخنیک کابل سند اعتباردهی اکادمیک وزارت تحصیلات عالی را بدست آورد



**وزیر تحصیلات عالی می گوید تضمین کیفیت یکی از چالش های عمده در نظام تحصیلی کشور می باشد و ما اطمینان داریم که با تطبیق این پروسه راه بسوی ارتقای کیفی نظام تحصیلی کشور هموارتر خواهد شد."**

پوهنتون پولی تخنیک کابل با تطبیق معیارت ۱۱ گانه تضمین کیفیت و اعتباردهی، موفق به کسب سند اعتباردهی اکادمیک از وزارت تحصیلات عالی گردید.
محفلی که به این مناسبت در آن پوهنتون برگزار گردید، دکتور عباس بصیر وزیر تحصیلات عالی ضمن تبریکی به هیأت رهبری، استادان و کارمندان این پوهنتون جهت کسب سند اعتباردهی، تطبیق معیار های تضمین کیفیت را در قسمت بلند بردن سطح کیفی نهاد های تحصیلی کشور موثر خواند.
دکتور بصیر گفت: " تضمین کیفیت یکی از ... صفحه ۲

## ششمین جلسه گروه فنی سازمان بین المللی برای محو خشونت علیه زنان دایر گردید

ششمین جلسه گروه فنی سازمان بین المللی برای محو خشونت علیه زنان، از طریق ویدیو کنفرانس با اشتراک نور احمد درویش معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی، معینان ونمایندگان بانک جهانی، وزارت های مالیه، صحت عامه، معارف، امور زنان، اداره تعلیمات تخنیکی و مسکلی و برنامه انکشاف تحصیلات عالی(HEDP) دایر گردید.



معین مالی و اداری: **وزارت تحصیلات عالی در زمینه کاهش و محو خشونت جنسیتی در محیط آموزشی و کاری متعهدانه عمل می کند و برای محو خشونت جنسیتی، مصونیت شغلی زنان در بخش های اداری، ظرفیت سازی و رسیدگی به شکایات آنان، "کمیته ویژهٔ رسیدگی به شکایات" تشکیل می گردد**

در این جلسه، مسأله پیشرفت ها، چالش‌ها... صفحه ۳

## د لوړو زده کړو وزارت د رهبري ډلې او خصوصي پوهنتونونو د اتحادیې تر منځ د ګډو لیدلوریو او ستونزو د رفع کولو لپاره غونډه وشوه

د لوړو زده کړو وزارت په هېواد کې د خصوصي لوړو زده کړو بنسټونو د پیاوړتیا او ودې لپاره د ډېرې همغږي او ګډو لیدلوریو د رامنځ ته کولو او خنډونو د له منځه وړلو لپاره، د خصوصي لوړو زده کړو د موسسو او پوهنتونونو د ټولنو او لوړو زده کړو د مشرتابه تر منځ غونډه وشوه.




په دې غونډه کې د لوړو زده کړو وزیر ډاکټر عباس بصیر ځوانانو ته د تحصیل د اسانتیاوو د برابرولو له پاره د خصوصي لوړو زده کړو د بنسټونو د رول په اړه او همداراز د ځینو بنسټونو د کیفي ودې په برخه کې یې د شته خنډونو په اړه خبرې وکړې ویې ویل چې له یو بل سره باید په ګډو همکاریو کار وشي څو د نوښتګرو خصوصي لوړو زده کړو د موسسو د ملاتړ تر څنګ، د ځینو هغو بنسټونو په اړه چې ستونزې لري د کمزورو ټکو د پیاوړي کولو لپاره یې همکاري وکړي.
د محصلینو چارو معین پوهندوی سید فرهاد شهید زاده او د مالي او اداري چارو معین نوراحمد درویش... دریمه پاڼه

## د لوړو زده کړو وزارت علمي معین د بریټش کونسل دفتر له عمومي رییس سره د ویډیو کنفرانس له لارې خبرې وکړې

د لوړو زده کړو وزارت علمي مرستیال پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي افغانستان کې د (برېټش کونسل) دفتر له عمومي رییس او افغانستان کې د برېټانیا د بهرنیو چارو وزارت له پوهنیزې سلاکارې سره؛ ددې وزارت د پروګرامونو او پرمختیاوو او د لوړو زده کړو وزارت څواکمنتیا د پروګرامونو د پلي کولو په اړه خبرې وکړې.



په دغه ویډیویي ناسته کې د لوړو زده کړو وزارت علمي مرستیال پوهنمل عبدالتواب بالاکرزي د درسي نصابونو د اصلاح او پراختیا، د کیفیت تضمین او اعتبار ورکونې، د استادانو د ظرفیت لوړولو، د تقنیني اسنادو د پراختیایي او ... دویمه پاڼه

## د لوړو زده کړو وزیر د ایران له سفیر سره وکتل

د لوړو زده کړو وزیر ډاکټر عباس بصیر په کابل کې د ایران له سفیر سره؛ د افغانستان د لوړو زده کړو په برخه کې د دې هیواد د همکاریو په اړه خبرې وکړې.



د دې بحث اصلي موضوع د استادانو او محصلانو لپاره د هغه هېواد د شاوخوا ٦٠٠ تحصیلي بورسونو، د کابل په پوهنتون کې د دري ادبیاتو د څانګې او څېړنیز مرکز د تعمیرجوړول، د افغانستان له پوهنتونونو سره د هغوی د اړتیا وړ کتابونو مرسته، په افغانستان کې د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکولو په بهیر کې د ایراني پوهنتونونو د استازولیو شمولیت او د یادو استازولیو لپاره د تعمیرونو جوړول، د اړتیاوو سره سم په پوهنتونونو کې د باکیفیته معیاري ډیجیټلي کتابتونونو د ایجاد او د افغانستان په پوهنتونونو کې د لابراتوارونو پر تجهیز او سمبالتیا؛ چې د ایران له خوا رغول کیږي؛ خبرې وشوې.
د لوړو زده کړو وزیر ډاکټر عباس د ایران له همکاریو مننه او د دواړو هیوادونو د اکاډمیکو اړیکو د لاټینګښت غوښتنه وکړه.

**هفته نامه تحصیلات عالی**
صاحب امتیاز: وزارت تحصیلات عالی
مدیر مسوول: پوهنیار حامد عبیدی
خبرنگاران: کاوون رمز، عتیق الله رسیس و سید نقیب الله هاشمی
ویراستار: اختر محمد عبیر ، شمس الرحمن احمدزی و حبیب وقار
دیزاینر: محمد باقر حیدری و هادی قدیری
شماره تماس: ۰۲۰۲۵۰۰۶۹۶
وب سایت وزارت: www.mohe.gov.af
آدرس الکترونیکی: info.pr@mohe.gov.af
spokesman@mohe.gov.af

## د لـوړو زده کـړو وزارت علمـي معـین د بریتـش کونسـل دفـتر لـه عمومـي رییـس سره د ویډیـو کنفرانس له لارې خبرې ...

تشـکیلاتي جوړښـت پـر معقولېـدو خـبرې اتـرې وکـړې او د برېټـش کونسـل لـه رییـس څخـه یـې وغوښـتل څـو د لـوړو زده کـړو وزارت سره د برنامـې پـه کچـه د علمـي څېړنـو او د اعتبـار ورکونـې بهیـر کـې خپلو همکاریو ته دوام ورکړي.



افغانسـتان کـې د برېټـش کونسـل عمومـي رییـس جیمبـوت او افغانسـتان کـې د نړیوالـې پراختیـا برنامې (DFID) د پوهنې د برخې سلاکارې مېرمن لورا برنـلي پـه څـو وروسـتیو کلونـو کـې د لـوړو زده کـړو وزارت د پرمختگونـو پـه اړه خوښـي څرگنـده کـړه او ویـې ویـل؛ چـې د برېټـش کونسـل دفـتر د لـوړو زده کـړو وزارت یـو ښـه همـکار بـولي او لـه یـاد وزارت سره به خپلو همکاریو ته دوام ورکړي.



همـدا راز پـه دغـه ناسـته کـې افغانسـتان کـې د برېټـش کونسـل علمـي مسـوولې گل غوټـۍ واعظـي د علمـي برنامـو د دوره‌یـي مـرور او کلنـي نظـارت د کتـاب پـه اړه؛ چـې د کیفیـت تضمیـن او اعتبـار ورکونـې، د علمـي برنامـو پراختیـا ریاسـتونو، د دولتـي پوهنتونـو د علمـي مرسـتیالانو او یوشـمېر خصوصـي پوهنتونـو او لـوړو زده کـړو موسسـو او د برېټـش کونسـل د متخصصینـو پـه همـکارۍ پـه انگلیسـي ژبـه بشـپړ شـوی، وویـل؛ چـې پښـتو او دري تـه یـې ژبـاړه پـای تـه رسـېدلې او ډېـر ژر بـه چـاپ او د تطبیـق لپـاره بـه پوهنتونونـو او د لـوړو زده کـړو موسسو ته واستول شي.

## پوهنتـون پولـی تخنیـک کابـل سـند اعتباردهـی اکادمیک وزارت تحصیلات عالی را ...

چالـش هـای عمـده در نظـام تحصیلـی کشـور مـی باشـد و مـن اطمینـان دارم کـه بـا تطبیـق ایـن پروسـه راه بسـوی ارتقـای کیفـی نظـام تحصیلـی کشـور هموارتـر خواهـد شد."

وی اظهـار داشـت کـه پوهنتـون هـای افغانسـتان در جـدول درجـه بنـدی نهـاد هـای تحصیلـی جهـان در جایـگاه بسـیار پاییـن قـرار دارد کـه بـا تـلاش هـای پیگیـر و تولیـد علـم می توانند از این حالت بدرآیند.

وزیـر تحصیـلات عالـی اضافـه کـرد کـه متاسـفانه بیشـترین تحقیقـات کـه در افغانسـتان انجـام شـده اسـت و مبنـای پالیسـی مراجـع دیگـر گردیـده اسـت؛ توسـط همـکاران بیـن المللـی مـا صـورت گرفتـه اسـت کـه از ایـن جهـت یکـی از برنامـه هـای وزارت تحصیـلات عالـی در آینـده ایـن خواهـد بـود تـا فرصـت هـای را بـرای تحقیقـات علمـی بـه سـطح کشـور مهیـا سـازیم و بتوانیـم سـکتور هـای دیگـر را از نقطه نظر پالیسی تغذیه نماییم.



بعـداً پوهنمـل عبدالتـواب بالاکـرزی معیـن علمـی وزارت تحصیـلات عالـی کسـب سـند اعتباردهـی از سـوی پوهنتـون پولـی تخنیـک کابـل را نتیجـه تـلاش هـا و زحـمات شـب و روزی اعضـای ایـن نهـاد عنـوان نمـوده گفـت کـه پروسـه تضمیـن کیفیـت در کشـور نزدیـک بـه یـک دهـه قبـل آغـاز شـد و بـا وجـود مشـکلات متعـدد؛ در اثـر تـلاش هـای مسـوولان وقـت ایـن پروسـه توانسـت جایگاه خویش را در نظام تحصیلی کشور تثبیت نماید.

پوهنمـل بالاکـرزی در کنـار توضیـح و تشـریح معیـار هـای ۱۱ گانـه تضمیـن کیفیـت و اعتباردهـی اضافـه کـرد کـه پروسـه تضمیـن کیفیـت همـه سـاله تطبیـق مـی گـردد تـا نهـاد هـای تحصیلـی ضمـن حفـظ اعتبـار گذشـته بـرای مراحـل بعـدی نیـز تـلاش هـای شـان را بصـورت مسـتمر ادامه دهند.

همچنـان پوهنـوال عبدالرشـید اقبـال رییـس پوهنتـون پولـی تخنیـک کابـل بـا ابـراز سـپاس از رهـبری وزارت تحصیـلات عالـی و اسـاتیدی کـه در راسـتای کسـب مرحلـه سـوم سـند اعتباردهـی همـکاری و تـلاش نمـوده انـد، اظهـار امیـدواری کـرد کـه بـا کسـب ایـن سـند، پوهنتـون پولـی تخنیـک کابـل صلاحیـت ایجـاد و انکشـاف برنامـه هـای علمـی و اکادمیـک خویـش را در مقاطـع لیسـانس، ماستری و دکتورا نیز به دست آورد.

بـه گفتـه وی پوهنتـون پولـی تخنیـک کابـل تـلاش خواهـد کـرد کـه در پهلـوی حفـظ ایـن سـند، روی کسـب سـند اعتباردهـی بـه سـطح جهانـی تـلاش کـرده و نقـش خویـش را در راستای توسعه کشور ایفا نماید.

قابـل ذکـر اسـت قبـلاً نیـز٦ نهـاد تحصیلـی دولتـی و ٤ نهـاد تحصیلـی خصوصـی توانسـته انـد سـند اعتباردهـی اکادمیـک شـان را از وزارت تحصیـلات عالـی بـه دسـت آورده بودند.

## معیـن مالـی و اداری وزارت تحصیـلات عالـی طـرح قـرارداد مواد اعاشوی محصلان پوهنتون ها را استماع نمود

معیـن مالـی و اداری وزارت تحصیـلات عالـی طـرح قـرارداد مـواد اعاشـوی محصـلان پوهنتـون هـای کشـور را کـه از سـوی کمیتـه موظـف تهیـه شـده اسـت، اسـتماع نمود.



نشسـتی کـه بـه ایـن منظـور دایـر شـد، نـور احمـد درویـش معیـن مالـی و اداری وزارت تحصیـلات عالـی روی مشـکلات فـرا راه تهیـه مـواد اعاشـوی لیلیـه هـای کشـور صحبـت نمـوده گفـت کـه در بخـش قـرار داد هـای مـواد اعاشـوی در پروسـه تـدارکات ناهماهنگـی هـای وجـود داشـت کـه بعـد از تثبیـت مشـکلات موجـود وزارت تـحصـیلات عالـی بـر آن شد تا یـک چارچوب منظم تدارکاتی را در زمینه تهیه نماید.

وی اضافـه کـرد کـه جهـت آمـاده سـازی طـرح جامـع کـه بتوانـد تمـام نیازمنـدی هـای محصـلان شـامل لیلیـه هـای مرکـز و ولایـت کشـور را پاسـخگو باشـد، کمیتـهٔ از معاونـان اداری شـماری از نهـاد هـای تحصیلـی کشـور موظـف گردید تا در زمینه طرحی را آماده سازند.

معیـن مالـی و اداری گفـت کـه بعـد از اسـتماع طـرح یـاد شـده و بحـث هـای تخنیکـی اعضـای نشسـت؛ کمیتـه موظـف گردیـد تـا بـا اسـتفاده از تجـارب سـایر کشـور هـا و محاسـبات دقیـق، روی یـک مـودل جدیـد تنظیـم امـور لیلیـه هـا کار صـورت گرفتـه و در جلسـه بعـدی کـه در هفته آینده برگزار خواهد شد ارایه گردد.

## د اطلاعاتـو او کلتـور وزارت مـالي او اداري مرستیالې د لوړو زده کړو وزیر سره ولیدل

د اطلاعاتـو او کلتـور وزارت مـالي او اداري مرسـتیالې مـژگان مصطفـوي او د یـاد وزارت یوشـمېر رییسـانو د لـوړو زده کـړو وزیر ډاکټر عباس بصیر سره لیده کاته وکړل.

د اطلاعاتـو او کلتـور وزارت مـالي او اداري مرسـتیالې پـه دغـه لیدنـه کـې د لـوړو زده کـړو وزیـر تـه د مبارکـۍ تـر څنـگ، پـه یـاده برخـه کـې د نومـوړي تـاکل کېـدل یـو پرځـای اقـدام وبالـه او تحصیـلي برخـه کـې د بدلـون راوسـتلو هیلـه منـدي وښوده.

د لـوړو زده کـړو وزیـر ډاکټـر عبـاص بصیـر د اطلاعاتـو او کلتـور وزارت مـالي مرسـتیالې او ورسره راغـلي پـلاوي د هـرکلي ترڅنـگ خپلـې برنامـې هغـوی تـه وړانـدې کـړې او ویـې ویـل؛ چـې د لـوړو زده کـړو وزارت د مشرتابـه موخـه د کارېدونکـو او له نړیوالو معیارونو سره سمو زده کړو وړاندې کول دي.

د لـوړو زده کـړو وزیـر هیلـه منـدي څرگنـده کـړه؛ څـو د خپلـو برنامـو پـه پلـي کولـو سره د تحصیـلي برخـې پـه کیفیـت کـې د خلکو تمې پای ته ورسوي.

## د لوړو زده کړو وزیر د یو شمېر پوهنتونونو د مالي او اداري مرستیالانو سره وکتل



د مرکز او ولایاتو یوشمېر پوهنتونونو مالي او اداري مرستیالانو د لوړو زده کړو وزیر ډاکټر عباس بصیر سره خپلې طرحې، برنامې او ستونزې شریکې کړې. د لوړو زده کړو وزیر په دغه لیدنه کې د مالي او اداري مرستیالانو مسوولیت مهم وباله او ویې ویل؛ چې د لوړو زده کړو سکټور او پوهنتونونو ټول فعالیتونه په مالي او اداري برخې پورې تړلي دي.

نوموړي وویل په داسې حال کې چې د ټولو پوهنتونو د مالي معاونیتونو فعالیتونه سره ورته دي؛ نو باید خپلې اغېزمنې او ښې طرحې له یوبل سره شریکې کړي، د زېربناوو د پراختیا په برخه کې اړتیاوې په ګوته او په لومړیتوبونو کې ونیسي. د لوړو زده کړو وزیر مالي او اداري مرستیالانو ته سپارښتنه وکړه څو د رخصتیو په لړ کې د مالي چارو د نظم او دسپلین لپاره خپلې طرحې چمتو کړي څو د درسونو له پیل سره هرڅه له وړاندې په سمه توګه تنظیم وي.

په دغه لیدنه کې د کابل پولي تخنیک پوهنتون مالي او اداري مرستیال خواجه محمد انور نوري د ورسره پلاوي په استازولۍ؛ په پوهنتونونو کې د ستونزو، فرصتونو او مالي برخې پر مدیریت خبرې وکړې. خواجه نوري ددغې لیدنې موخه د لوړو زده کړو وزارت مشرتابه ته د پوهنتونونو د مالي او اداري مرستیالانو وروپېژندنه، د طرحو وړاندې کول او په کاري چاپېریال کې د کار ښه کېدو په اړه یې د ښو مشورو ورکول وبلل.

نوموړي وویل چې د پوهنتونونو مالي او اداري مرستیالان د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري له لوري د ازادې سیالۍ له لارې ګمارل شوي او موخه یې د لوړو زده کړو وزارت د مشرتابه په ملاتړ؛ پوهنتونونو ته د ښو او صادقانه خدمتونو وړاندې کول دي.

ډاکټر عباس بصیر ټولو مالي او اداري مرستیالانو ته ډاډ ورکړ چې تل یې په خدمت کې دی او له هغو ټولو طرحو به یې؛ چې د مثبت بدلون لامل کېږي ملاتړ وکړي.

## د لوړو زده کړو وزارت د رهبرۍ ډلې او خصوصي پوهنتونونو د اتحادیې تر منځ د ګډو لیدلوریو او ستونزو د رفع کولو له پاره غونډه...

هم د خصوصي لوړو زده کړو د بنسټونو د ښه والي له پاره د لوړو زده کړو وزارت د ښه نیت په اړه خپل نظرونه وړاندې کړل او خپل نظرونه یې په خصوصي بنسټونو کې د شته ستونزو او همدارز د لوړو زده کړو وزارت او خصوصي بنسټونو تر منځ د شته ستونزو په اړه څرګند کړل.

د پوهنتونونو د اتحادیو او خصوصي لوړو زده کړو موسسو رییس ډاکټر شفیع نعیمي او د خصوصي تحصیلي بنسټونو څو نورو رییسانو هم د کیفي ودې پر وړاندې د ستونزو او خنډونو او د خصوصي لوړو زده کړو د بنسټونو د پرمختګونو په اړه خبرې وکړې، د رفع کولو له پاره یې یو لړ وړاندیزونه او په هېواد کې د لوړو زده کړو د پیاوړتیا د پروګرامونو د پلي کولو له پاره وړاندې کړل.

د لوړو زده کړو وزیر عباس بصیر د خصوصي لوړو زده کړو بنسټونو وضعیت د ښه والي او د راڅرګندو شوو ستونزو د رفع کولو، د ګډ مشورتي بورډ، د خصوصي تحصیلي بنسټونو د مشاوریت جوړولو، په اجراییوي رول سره د پالیسۍ د جوړولو ګډه کمېټه او ملاتړي او څارونکې ډلې له پاره د نوو پروګرامونو د پیل ډاډ ورکړ، څرګنده یې کړه چې د دې برخو کاري میکانیزم او جوړښت به له یو بل سره په همکارۍ ترسره شي.

د لوړو زده کړو وزیر د اعتبار ورکولو او کیفیت د تضمین د خپلواکې اداره جوړول د دې وزارت د پروګرامونو یوه برخه وبلله او د خصوصي بنسټونو د ګډون لپاره یې دې هدف ته د رسېدو ډاډ ورکړ.

ډاکټر عباس بصیر وویل، په پام کې ده چې د خصوصي لوړو زده کړو د بنسټونو او لوړو زده کړو وزارت تر منځ ورکشاپونه او سیمینارونه جوړ شي او د لوړو زده کړو د پرمختګ او معیاري کولو لپاره به دواړو خصوصي او دولتي سکټورونو کې وړ لارې وپلټل او ترسره شي.



په دې غونډه کې د خصوصي لوړو زده کړو او پوهنتونونو د اتحادیو غړو د لوړو زده کړو د وزیر او رهبرۍ ډلې د دې اقدام ستاینه وکړه او ژمنه یې وکړه چې د یاد شوو پروګرامونو د پلي کولو له پاره به هېڅ ډول هڅې ونه سپموي.

## ششمین جلسه گروه فنی سازمان بین المللی برای محو خشونت علیه زنان...


و فرصت‌ها در زمینه محو خشونت جنسیتی به بحث گرفته شد و برای کاهش خشونت جنسیتی علیه زنان طرح‌ها و راهکاری جدید ارایه گردید.

نور احمد درویش معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی گفت که این وزارت در زمینه کاهش و محو خشونت جنسیتی در محیط آموزشی و کاری متعهدانه عمل می کند و برای محو خشونت جنسیتی، مصونیت شغلی زنان در بخش های اداری، ظرفیت سازی و رسیدگی به شکایات آنان، "کمیته ویژهٔ رسیدگی به شکایات" تشکیل می گردد.



به گفته معین مالی و اداری وزارت تحصیلات عالی، این کمیته مکلف خواهد بود تا روی بازنگری اسناد تقنینی در این پیوند، مسأله پیشرفت‌ها و میزان تطبیق طرزالعمل های محو خشونت جنسیتی کار کند و یک برنامه عملیاتی (Action plan) کاهش و محو خشونت جنسیتی در تحصیلات عالی تشکیل دهند، تا بر مبنای آن، نواقص تشخیص و معلومات جمع آوری گردیده و استراتژی محو خشونت جنسیتی در نهادهای تحصیلات عالی از نظر محتوا غنی تر شود.

نور احمد درویش تأکید ورزید که وزارت تحصیلات عالی زمینه را فراهم خواهد کرد تا تمام خانم ها در سطح کل پوهنتون های کشور به سهولت و به گونه آنلاین بتوانند شکایات شان را درج کنند و این شکایات توسط کمیته ویژهٔ رسیدگی به شکایات مورد کارشناسی و بررسی قرار گیرد.



وی افزود که وزارت تحصیلات عالی قرار است، با مؤسسه زنان برای عدالت و برنامه انکشاف تحصیلات عالی(HEDP) نیز تفاهمنامه ی را به منظور ایجاد راهکارهای متنوع و مؤثر در مبارزه در برابر خشونت علیه زنان امضا کند و تلاش می ورزد تا با شناسایی عوامل خشونت جنسیتی، مصونیت های شغلی وآ موزشی برای زنان در محیط کار و تحصیل فراهم آورد.

Higher Education
Weekly

وزارت تحصیلات عالی
Ministry of Higher Education

https://mohe.gov.af

۱۶۱ مه ګڼه - اتم کال -۱۳۹۹ هـ.ل - لېندی

## وزیر تحصیلات عالی با هیئت رهبری پوهنتون لغمان دیدار کرد

دکتور عباس بصیر وزیر تحصیلات عالی طی نشستی با هیئت رهبری پوهنتون لغمان طرح ها، برنامه ها و مشکلات آنان را شنید.



دکتور عباس بصیر وزیر تحصیلات عالی، ضمن شرح برنامه ها و راهکارهای جدید رهبری وزارت تحصیلات عالی، به رهبری پوهنتون لغمان اطمینان داد که از برنامه ها و راهکارهای که منجر به بهبود کیفیت و نظم اکادمیک در محیط پوهنتون گردد حمایت جدی می نماید.

وزیر تحصیلات عالی همچنان وعده سپرد که در راستای رفع هر نوع مشکلات به گونه مستقیم و مستدام با رهبری پوهنتون در تماس خواهد بود و تلاش خواهد ورزید تا با فراهم کردن زمینه شگوفایی های علمی و اداری مسولیت خویش را در قبال نهادهای علمی انجام دهد.

دکتور عباس بصیر از هیئت رهبری پوهنتون یاد شده خواست تا طرح ها و مشکلات شان را به گونه مستدام با وزارت در میان بگذارند و رهبری وزارت تحصیلات عالی برای اجرایی آن اقدامات جدی خواهد کرد.

پوهنمل دکتور عصمت الله درانی رئیس پوهنتون لغمان با ابراز سپاس گزاری از مقام وزارت تحصیلات عالی نسبت به تکمیل تقرر هیئت رهبری و رؤسای پوهنځی های این پوهنتون گفت که، رهبری پوهنتون برای بهبود نظام تحصیلی و تثبیت جایگاه و اعتبار پوهنتون لغمان به عنوان یک پوهنتون معتبر از نظر علمی و اکادمیک تلاش خواهد کرد.

به گفته دکتور درانی پوهنتون لغمان با داشتن ۳۵۰۰ تن محصل که ۴۰۰ تن آن را طبقه اناث تشکیل می دهد، در ۵ پوهنځی چون انجنیری، زراعت، ادبیات، تعلیم و تربیه و اقتصاد آموزش داده می شوند.

وی ضمن شرح دستاوردها و فعالیت های پوهنتون لغمان گفت که چهار پروژه از جمله دیوار احاطه، یک باب تالار با گنجایش ۱۵ صد نفر، یک باب لیلیه دخترانه و ساختمان پوهنځی اقتصاد در سال مالی آینده تطبیق خواهد شد.

دکتور درانی از بست های خالی و ضرورت استخدام اعضای کادر علمی و کمبود تشکیلات در بخش اداری نیز یاد آوری کرد. وزیر تحصیلات عالی مجدداً وعده سپرد که به تمام مشکلات از جمله پر شدن بست های اداری و اعضای کادر علمی مطابق قانون رسیدگی خواهد شد.

## وزیر تحصیلات عالی با هیأت رهبری موسسه تحصیلات عالی غور دیدار کرد

وزیر تحصیلات عالی در دیداری با هیأت رهبری موسسه تحصیلات عالی غور ، خواست ها و مشکلات شان را استماع نمود.



در این دیدار نخست پوهنیار محمد نسیم وفا رئیس موسسه تحصیلات عالی غور مشکلات شان را در عرصه های مختلف مانند؛ ساخت دیوار احاطه، کمبود تشکیلات کادری و اداری، مشکل حمل و نقل ، پیشنهاد ایجاد دو پوهنځی و سایر موارد ذیربط با وزیر تحصیلات عالی شریک ساخت.

دکتور عباس بصیر وزیر تحصیلات عالی بعد از استماع مشکلات هیأت در قسمت حل چالش ها و بر آورده شدن خواست های شان وعده همکاری داد.

همچنان وزیر تحصیلات عالی در رابطه به ایجاد پوهنځی گفت که انکشاف و ایجاد پوهنځی بستگی به فرایند تضمین کیفیت و اعتباردهی دارد و باید پوهنځی مؤسسه متذکره مراحل ۱۱ گانه تضمین کیفیت را سپری نموده باشد تا زمینه برای ایجاد پوهنځی های جدید هموار گردد.



به گفته محمد نسیم وفا، موسسه تحصیلات عالی غور دارای ۳ پوهنځی( تعلیم و تربیه، کمپیوتر ساینس و زارعت) بوده که حدود ۲۳۰۰ تن محصل در آن سرگرم تحصیل می باشد.

## په فاریاب پوهنتون کې د کار او اجرااتو د قانون په اړه د عامه پوهاوي ورکشاپ جوړ شو

د کار قانون، د اداري اجرأتو قانون، د ملکي خدمتونو د کار کوونکو د ذاتي چارو مقرره او قانون، د اداري چارو د ښه والي لپاره د اداري مراسلاتو لارښود او پلي کولو په اړه په فاریاب پوهنتون کې دوه ورځنۍ ورکشاپ جوړ شو.

د دې ورکشاپ په پیلیزه کې د فاریاب پوهنتون رییس پوهنمل فیروز اوزبیک کریمي، د علمي چارو مرستیال پوهنمل نوراحمد قیتمس، د پوهنتون د محصلینو چارو مرستیال پوهنیار امید مقیمزي، د پوهنځیو رییسانو، د پوهنتون د استادانو د چارو او علمي څېړنو امر پوهنمل محمد نعیم ارتاش، د څانګو امرینو، یو شمېر استادانو، تدریسي مدیرانو او اداري کارکوونکو ګډون کړی و.



د فاریاب پوهنتون رییس وویل دغه ورکشاپ د یوې په اصولو ولاړې او ځواب ویوونکې اداري د لرلو په منظور، د اړوندو قوانینو په اړه پوهاوی او د بېلابېلو کچو مامورینو او کارکوونکو لپاره د تحصیلي او اداري ښو خدمتونو د وړاندې کولو لپاره یې د پلي کولو په منظور د فاریاب پوهنتون د استادانو او کارکوونکو لپاره جوړ شو او باید چې اعظمي استفاده ترې وشي.



د ورکشاپ په بهیر کې، د دیپلوماسي او اداري څانګې علمي کادري غړي پوهنیار امید نصیب د «کار د قانون» د جزا او خصوصي حقوقو د څانګې علمي کادري غړي پوهنیار محمد علم عدیل «د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د ذاتي چارو د مقررې او قانون» د جزا او خصوصي حقوقو د څانګې علمي کادري غړي پوهنیار محمد هارون فتاحي د «اداري اجرأتو قانون» او د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي رییس پوهنمل دوکتور محمد اسماعیل قیوم اوغلي د «اداري مراسلاتو د لارښود» په اړه خپل پریزینټېشنونه وړاندې کړل. په اړوندو مطرح شوو موضوعاتو د ورکشاپ د ګډون کوونکو له لوري بحث او خبرې اترې وشوې چې پوښتنو ته یې د استادانو له لوري ځوابونه ورکړل شول.